# د خوست ولایت نندارتون پلان

Bashi; Your Strategic & Development Partner

Event Management | Multi-Media Production | Information Technology

د خوست ولایت نندارتون پلان

Bashi Innovations
+93 (0) 202 214 981
+93 (0) 795 730 866
info@bashi.af
5th Floor, Ahmad Ali Plaza, Flower Str, Shahr-e-Naw

د ۱۴۰۳ کال د تله میاشتې له ۲۴مې تر ۲۶مې پورې د خوست ولایت د جرګو او شملو وطن په ولایت کې د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت له لوري د نندارتون د جوړولو تګلاره او پلان:

**د نندارتون نوم:** د افغانستان ګنجینه، د الماس سیاه نندارتون تر عنوان لاندې.

**د نندارتون ځای:** خوست ولایت د فوتبال استدیوم

**د نندارتون کوربه:** باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت.

1. د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت د جواز د ثبت شمیره: (155982)
2. د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت بانکي حساب شمیره: (2240489)
3. د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت په دې برخه کې څوکلنه کاري تجربه او له ځان سره یو تخصصي او مسلکي تیم لري.
4. د افغانستان ګنجینه نندارتون د تر سره کیدو لپاره د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت طرحه په لاندې ډول ده:

**مقدمه:** د محترم سوداګرۍ او صنعت وزارت د غونډو په تالار کې د روان لمریز کال د اسد میاشتې په ۹مه نیټه د ترسره کیدونکې غونډې په جریان کې د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت، وکولی شو. د ازاد سیالۍ له لارې، د خوست ولایت د جرګو او شملو وطن د نندارتون جوړولو ویاړ خپل کړي.

له دې مخې، د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت د افغانستان ګنجینې تر نوم لاندې د نندارتون پرانیستې ته پوره هوډ او تکل وکړ. داسې یو نندارتون ته چې د کورنیو تولیداتو او محصولاتو لپاره پکې وده او بازار موندنه وشي، د ملي صنعت دود کول پکې عام شي، د کورنیو تولیداتو څخه د ګټې اخیستنې لپاره د خلکو تشویق، د پانګونې لپاره د خلکو هڅول، د متشبثینو ترمنځ سرمایه ګذاري او همغږۍ رامنځته کړل شي او دا انګیزې د هیواد د اقتصادي ودې لپاره ډیرې ګټورې دي.

د افغانستان ګنجینه، د الماس سیاه نندارتون د داخلي تولیداتو د تقویت، ملي صنعتونو د پرمختګ، او د محلي کارآفرینانو د ملاتړ لپاره جوړ شوی دی. دغه پیښه د افغانستان داخلي تولیداتو، په ځانګړې توګه د خوست ولایت محلي محصولاتو، پېژندلو لپاره یو فرصت دی او د پانګوالو او تولیدونکو ترمنځ د تجارتي اړیکو زیاتولو کې مرسته کوي. د دې نندارتون هدف دا دی چې د خلکو د داخلي تولیداتو د مصرف هڅونه وکړي او د کارآفرینانو لپاره د پانګونې بسترونه برابر کړي. د شرکت خدمات تبلیغاتی باشی د لویو نندارتونونو په ترسره کولو کې د اوږدې تجربې سره، دغه پیښه به د مسلکي کیفیت او سازماندهۍ سره ترسره کړي.

Bashi Innovations
+93 (0) 202 214 981
+93 (0) 795 730 866
info@bashi.af
5th Floor, Ahmad Ali Plaza, Flower Str, Shahr-e-Naw

**د نندارتون محصولات:**

په نندارتون "د الماس سیاه" کې به د بېلابېلو برخو محصولات نندارې ته وړاندې شي، چې په دې کې شامل دي:

- **صنعتي:** صنعتي تجهیزاتو او ماشین آلاتو
- **زراعت:** زراعتی او باغباني محصولات
- **دستی صنایع:** محلي مصنوعات او دستی هنرونه
- **ساختماني:** ساختماني مصالحو او تجهیزاتو
- **معدني:** معدني مواد او استخراج شوي مواد
- **طبي او دارويي:** طبي تجهیزات او داروګانې
- **غذايي او لبنيات:** محلي غذايي او لبنياتي محصولات
- **پوشاک:** لباسونه او منسوجات
- **ديني او علمي کتابونه:** کتابونه او تعليمي منابع
- **تجسمي هنرونه:** خطاطي، نقاشي او رسم
- **بازی‌ها او تفريحات:** محلي او ملي بازيونه
- **مشاعره:** ادبي رقابتونه

دغه نندارتون به محلي کارآفرینانو ته فرصت ورکړي چې خپل محصولات په یو مسلکي چاپېریال کې نندارې ته وړاندې کړي او د ملي او نړیوالو شرکتونو سره تعامل وکړي.

**د مقاماتو حضور:**

دغه پیښه د خوست ولایت لوړپوړو دولتي مقاماتو، د تجارت او صنعت وزارت، د اقتصاد وزارت، د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست، او د نورو محلي ادارو مقاماتو سره ترسره کېږي. همدارنګه، د اسلامي افغانستان نمايندګان به په دې نندارتون کې ګډون وکړي او ملي او نړیوالې رسنۍ به د دې پیښې پوښښ وکړي.

**د نماز ځای:**

د نندارتون د افغانستان ګنجينه، د الماس سياه د ګډونوالو د مذهبي اړتیاوو د پوره کولو لپاره، یو ځانګړی ځای د نماز لپاره ځانګړی شوی دی. دغه ځای به د متشبثينو، ګډونوالو او ليدونکو لپاره په ځانګړي توګه د نماز لپاره برابر شوی

وي او د نندارتون په اوږدو کې به منظمې توګه پاک شي. د نماز ځای به د مناسبې امکاناتو سره برابر وي چې په کې فرش او د وضو ځای شامل وي ترڅو ټول ګډونوال دې خدماتو ته په آسانۍ سره ګټه واخلي.

**د متشبثینو حضور:**

په دې نندارتون کې به د افغانستان له هر کونج څخه تولیدي او خدماتي شرکتونه حضور ولري. متشبثین به د زراعت، ساختمان، دستي صنعتونو، او معدني محصولاتو په څېر مختلفو برخو کې خپل محصولات د لیدونکو او پانګوالو ته معرفي کړي. همدارنګه، د B2B تجارتي مذاکرات به د تجارتي همکاریو او پانګونې فرصتونه برابر کړي.

**د درې ورځنې پروګرام:**

- **لومړۍ ورځ: افتتاحیه**
  - **وخت:** ۹:۰۰ سهار
  - **د افتتاح مراسم:** د لوړپوړو مقاماتو، د صنعت او تجارت وزارت استازو، محلي مسئولینو او د خوست ولایت د مشرانو سره
  - **سخنراني:** دولتي مسئولین او د خوست ولایت مقامات به د داخلي صنعتونو د تقویت او محلي تولیداتو د پرمختګ په اړه خبرې وکړي.
  - **عمومي لیدنه:** د سهار له ۱۰ بجو څخه تر ورځې پای پورې
- **دوهمه ورځ: تجارتي غونډې او پانګونې فرصتونه**
  - **وخت:** ۸:۰۰ سهار تر ۶:۰۰ مازیګر
  - **B2B غونډې:** د شرکتونو او کارآفرینانو ترمنځ تجارتي تعاملات او

Bashi Innovations
+93 (0) 202 214 981
+93 (0) 795 730 866
info@bashi.af
5th Floor, Ahmad Ali Plaza, Flower Str, Shahr-e-Naw

مذاکرات

- **عمومي لیدنه:** د سهار له ۱۰ بجو څخه تر ورځې پای پورې
- **ورکشاپونه او سیمینارونه:** د داخلي تولیداتو د ترویج لپاره تعلیمي

پروګرامونه

- **دریمه ورځ: اختتامیه، کلتوري پروګرامونه او ځانګړې تقدیرونه**

- **وخت:** ۸:۰۰ سهار
- **کلتوري پروګرامونه:**
  - **مشاعره محلي:** ادبي رقابتونه
  - **فوتسال سیالۍ:** د محلي فوتسال تیمونو نمایشي

سیالۍ

- **ځانګړې تقدیرونه:**
  - **د ولایت مقاماتو تقدیر:** د محلي مقاماتو او د

صنعت او تجارت وزارت مسئولینو څخه مننه

- **د امنیتي ځواکونو تقدیر:** د امنیتي او محلي پولیسو

ځواکونو ستاینه

- **د اجرائیوي ټیم تقدیر:** د باشي تبلیغاتي ټیم ستاینه
- **د متشبثینو تقدیر:** د ستاینې سندونو او لوحو اهداء
- **رسمي اختتامیه:** د سیالیو پایلې، غوره غرفې انتخاب، او د ننداړتون

غوره ګانې اعلانول

**د ننداړتون ځانګړتیاوې:**

- **پراخه رسنۍ پوښښ:** ملي او نړیوالې رسنۍ لکه طلوع، لمر، او اریکوزیا
- **دندې فرصتونه:** د ځوانانو لپاره د کار فرصتونه

**د پانګونې هڅونه:** د پانګوالو د همکارۍ او تعامل لپاره زمینه برابروول

**نتیجه ګیري:**د افغانستان ګنجینه، د الماس سیاه ننداړتون نه یوازې د خوست د محلي محصولاتو پېژندلو لپاره یو

Bashi Innovations
+93 (0) 202 214 981
+93 (0) 795 730 866
info@bashi.af
5th Floor, Ahmad Ali Plaza, Flower Str, Shahr-e-Naw

فرصت دی، بلکې د ملي اتحاد، همکارۍ، او اقتصادي پرمختګ نښه هم ده. دغه نندارتون د داخلي صنعتونو د ملاتړ او د کارآفرینانو او پانګوالو ترمنځ د اړیکو جوړولو لپاره مهم رول لري. د لوړپوړو مقاماتو حضور، د دولتي ادارو او امنيتي ځواکونو ملاتړ، او د متشبثينو فعاله ګډون، د دې پېښې د اهميت نښه ده او د افغانستان د صنعتونو لپاره یوه مهمه حرکت دی.

دا ننداړتون د نوو فرصتونو، ملي همغږۍ، او د داخلي محصولاتو په ننداري سره نړیوال شهرت ته دروازې پرانیزي او موږ هیله لرو چې د دې لاره په دوام سره، د افغانستان ګنجینه، خلک، او تولیدات په نړیواله کچه وځلیږي. د دې پیښې پای ته رسيدو سره، زموږ اساسي هدف څرګند دی: د ملي اقتصاد بنسټونه د داخلي توليداتو د ملاتړ او نوي فرصتونو د ایجاد له لارې تقویت کول.

## جدول د ننداړتون مصارفو لپاره

### بخش ۱: غرفې او تجهيزات

| شمیره | توکي | تعداد | مصارف |
|---|---|---|---|
| 1 | د ننداړتون غرفو کرایه (۲x۳ متر مربع) | | |
| 2 | میز او صندلي | | |
| 3 | برقي ساکټونه | | |
| 4 | رڼاګانې | | |
| 5 | د کثافاتو کُرسی | | |
| 6 | کټبندونه | | |
| 7 | د میز او صندلي کرایه | | |
| 8 | د غږ سیستم کرایه | | |
| 9 | د اسکرین کرایه | | |
| 10 | د غرفو او استندونو لپاره بینرونه | | |
| | | ټول مصارف | |

## بخش ۲: خدمات او تیم

| شمیره | توکي | تعداد | مصارف |
|---|---|---|---|
| 11 | د خدماتو تیم | | |
| 12 | د باشي شرکت پرسونل | | |
| 13 | په ځای کې کار (د نندارتون پروګرام تنظیمول) | | |
| 14 | په ځای کې کار (د نندارتون پروګرام بیل کول) | | |
| 15 | د باشي شرکت د خدماتو تیم لپاره یونیفارم تیاری | | |
| 16 | د نندارتون په مختلفو برخو کې لارښودنه | | |
| | | ټول مصارف | |

## بخش ۳: تبلیغات

| شمیره | توکي | تعداد | مصارف |
|---|---|---|---|
| 17 | د عامه پوهښتن تبلیغات | | |
| 18 | د ننداړتون مخکې تبلیغات | | |
| 19 | د مجازي رسنیو تبلیغات | | |
| 20 | آنلاین تبلیغات | | |
| 21 | په ښار او خوست لویو لارو کې بیلبوردونه نصب کول | | |
| 22 | د ننداړتون وروسته تبلیغات | | |
| 23 | رسنیو ته د ننداړتون وروسته معلومات وړاندې کول | | |
| | | ټول مصارف | |

+93 (0) 202 214 981 info@bashi.af
+93 (0) 795 730 866 5th Floor, Ahmad Ali Plaza, Flower Str, Shahr-e-Naw

**بخش ۴: ترانسپورټ او استوګنځای**

| شمیره | توکي | تعداد | مصارف |
|---|---|---|---|
| 24 | ترانسپورټ او نمایشي مواد | | |
| 25 | د مېلمنو د اقامت ځای | | |
| 26 | د داخلي او خارجي مېلمنو لپاره هوټل | | |
| 27 | د مېلمنو او د باشي شرکت پرسونل لپاره خواړه | | |
| ټول مصارف | | | |

**بخش ۵: متفرقه او امنیت**

| شمیره | توکي | تعداد | مصارف |
|---|---|---|---|
| 28 | د نندارتون امنیت او سیکوریټي | | |
| 29 | د نندارتون نور مصارف | | |
| 30 | د نمایشي نمونو تیاری | | |
| 31 | مشتریانو ته د بلنې دعوتنامې لېږل | | |
| 32 | د نندارتون لیدونکو لپاره فورمونه | | |
| 33 | په مجازي صفحو کې ژوندی خپرونه (موبایل) | | |
| ټول مصارف | | | |

ټول مصارف د نندارتون لپاره:

**ټول مصارف =**

**د افغانستان ګنجینه نندارتون مالي ملاتړ**

Bashi Innovations
+93 (0) 202 214 981 info@bashi.af
+93 (0) 795 730 866 5th Floor, Ahmad Ali Plaza, Flower Str, Shahr-e-Naw

اوس مهال، موږ د افغانستان ګنجینه نندارتون لپاره د مالي ملاتړ جلبولو په لټه کې یو. هیله لرو چې د نورو هڅو او نوو همکاریو سره، وکولی شو مناسب مالي ملاتړ ترلاسه کړو. د مالي ملاتړ لیست به ژر تازه شي.

**مالي ملاتړ:** د نندارتون سره اړوند ټول لګښتونه، په شمول د ځای کرایه، امنیت تأمین، تبلیغات او اړوند خدمات، د مالي ملاتړ کوونکو او د باشي تبلیغاتي شرکت لخوا تأمین شي.

**سازمان‌دهی:** د ننداراتون د ملاتړ، امنیت تأمین، او د هغې د ترسره کولو څارنه به په بشپړ ډول د خوست ولایت امنیتي اداري او د ننداراتون اجرائیوي ټیم لخوا ترسره شي.

د سوداګرۍ او صنعت وزارت د ننداراتونو محترم ریاست ته به د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت له لوري د افغانستان ګنجینه ننداراتون د پارنیسټي لپاره د ۵۰٪ بانکي تضمین کاپي وسپارل شي.

5. د افغانستان ګنجینه ننداراتون لپاره د ټولو دخیلو جوانبو سره د لاسلیک شویو تړنونو کاپي به د سوداګرۍ او صنعت وزارت د ننداراتونو محترم ریاست ته وسپارل شي.
6. د سوداګرۍ او صنعت وزارت بانکي حساب ته به د امتیاز او خدمت حق فیس د افغانستان ګنجینه ننداراتون تر پارنیسټو مخکې تحویل شي.
7. د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت د افغانستان ګنجینه ننداراتون د پرانیستي لپاره د سوداګرۍ او صنعت وزارت د ننداراتونو محترم ریاست ته د اړتیا په صورت کې د هر ډول اسنادو د وړاندې کولو لپاره چمتو دی.
8. د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت ځان مکلف ګڼي چې د افغانستان ګنجینه ننداراتون لپاره د ۱-۶ فورم پلې او ډک کړي.
9. د باشي تبلیغاتي خدمتونو شرکت د افغانستان ګنجینه ننداراتون د هرې برخې او هرکړنې خپل مکمل ګزارش د سوداګرۍ او صنعت وزارت د ننداراتونو محترم ریاست ته ورکړي او ورکوي یې.

میوال کولی شي، په ټاکل شویو ورځو د افغانستان ګنجینه ننداراتون څخه لیدنه وکړي، وطني محصلاتو او تولیداتو وپلوري.

په درنښت

ذکرالله غني‌خیل

د باشي تبلیغاتي شرکت اجرائیه رییس